آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۵/۳۱

د مینې باران

د کرکې طوفان

کـرکې طـوفـان کې سم راګـیـر یـو، لـږ د مینې باران
زمـــوږ پـر ذهـن او بـدن بـانـدې پـراتـه دي مـاران

سیلـی او تـالـنـده د کـرکـې رانـازلـه پـر مـوږ
مـوږه یـو ژوبـل، نـه یـو هـغه پـخـوانـي شـهـسواران

لـږ دې د رحـم رڼـا ولـېـږه ځـپـلـو تـه بـیـا
لارې دې ورکـې تـمـه نـه شـتـه او پـراته یـو حیران

دغـه طـوفـان یـوازې دلـتـه دی که بـل ځـای هـم شته
موږ کې څه پاتې نه دي ګورې مو چې ډېر یو خواران

پـه دې نـړۍ کې نـور هـم شتـه دي کـه یـوازې موږ یو
هـر څـه نـه بـېـل یـو را په برخه دی ټول عمر هجران

قـاتـل تـه لاس نـیسو، د خـپـل ژونـد ګـدایي کـووو نـن
تـا تـــه پـــه تـمـه یـــو او ځـان ګـنـو د تـاسو یـاران

۲۰۲۱/۰۳/۰۵
هېدرسلیف
ډنمارک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ